السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# ځوک چې ناداره کس (قرضدار) ته مهلت ورکړي او یا ورته له یو څه قرض څخه تېر شي نو الله تعالی به یې د قیامت په ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې راولي چې په هغه ورځ د هغه له سیوري پرته بل سیوری نه شته

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايې چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي: "ځوک چې ناداره کس (قرضدار) ته مهلت ورکړي او يا ورته له يو څه قرض څخه تېر شي نو الله تعالی به يې د قيامت په ورځ د خپل عرش تر سيوري لاندې راولي چې په هغه ورځ د هغه له سيوري پرته بل سيوری نه شته".

[صحيح دی] [الترمذي او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې ځوک قرضدار ته مهلت ورکړي او یا ورته له یو څه قرض څخه تېر شي، نو بدله یې دا ده چې الله تعالی به یې د قیامت په ورځ د خپل عرش تر سیوري لاندې راولي، په هغې ورځ چې لمر به پکې د بندګانو سرونو ته رانږدې شي او تودوخه به یې پرې زیاته شي. نو هېڅوک به سیوری نه مومي مګر هغه ځوک چې الله تعالی په سیوري کړی وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4186

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee